UNAMA

د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره

د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان

مطبوعاتی اعلامیه

http://unama.unmissions.org

**ملګري ملتونه د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د منع د قانون د بیرنی او بشپړ تطبیق مطالبه کوی**

**کابل، د ۲۰۱۲ کال د مارچ ۸ مه** – په افغانستان کی د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره (UN Women) د ښځو نړایواله ورځ باندی د افغانستان له حکومت څخه وغوښتل چی د ښځو پر وړاندی د تاو - تریخوالی د منع د قانون په بشپړه توګه پلی تطبیق کړی.

د یوناما د بشری حقونو څانګی مشری جورجیت ګنیون وویل: "تر هغه دمه چی د ښځو او انجونو پر وړاندی د تاوتریخوالی د عاملیونو لپاره معافیت شتون ولری، په هیواد کی د ښځو حقوقو په برخه کی به ډیر لږ واقعی او تل پاتی پرمختګ رامنځ ته شی." هغه زیاتوی: "د افغانو ښځو د حقوقو تأمینول – لکه د سولی او بیا پخلاینی بهیر په شمول، په ټولنیز ژوند کی د دوی برخه اخیستل او د تعلیم او کار برابرو فرصتونو ته لاسرسی – نه یواځی د کاغذ پر مخ ملاتړ او تضمین ته اړ دی بلکه د ښځو او نجونو پر وړاندی تاو تریخوالی د منع د قانون بشپړ او بیړنی تطبیق ته هم اړتیا لری."

د ۲۰۱۱ کال په نومبر میاشت کی یوناما او ملګرو ملتونو د بشری حقونو دفتر په ۳۳ مخونو کی یو رپورټ چی "په مخکی اوږده پرته لار: په افغانستان کی د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د منع د قانون تطبیق" بلل شوی، خپور کړ چی د دی قانون د تطبیق په برخه کی هم پرمختګونه او هم نیمګرتیاوی بیانوی. دا رپورټ یادوی چی که څه هم د دی قانون تطبیق مخ پر زیاتیدو دی، خو د دی لپاره چی افغانی ښځی له تاوتریخوالی څخه وساتل شی، او د دوی پر وړاندی د تاوتریخوالی له منځه وړلو سره په دوی مساوات د نورو وګړو سره پیاوړی کړای شی، لا په مخ کی اوږده لار پرته ده.

د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د منع د قانون چی ۲۰۰۹ کال د اګست په میاشت کی نافذ شو د ماشومانو ودول، اجباری ودونه، د ښځو پیرودل او پلورل د واده په بهانه، د بدو ورکړه، ځان سوځولو ته اړ ایستل او ۱۷ نور عملونه چی وهل او جنسی تیری هم په کی شامل دی، جرم او د سزا وړ ګڼی. همدا شان دا قانون د عاملینو لپاره ځانګړی سزا ګانی مشخصوی.
د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د منع د قانون پر اساس قانونی ساتنی او د اساسی قانون د تضمینونو سره سره په افغانستان کی د ښځو او نجونو پر وړاندی تاو تریخوالی په پراخه توګه دوام موندلی چی د چارواکو له خوا ورسره په نا ثابته توګه چلند شوی دی.

یوناما وموندله چی قضایی مسؤولینو او د قانون تطبیقوونکو په کله نا کله توګه دا قانون، چی دوه کاله مخکی نافذ شوی، عملی کړی او د د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی په اکثرو قضیو کی یی لا له دی قانون څخه استفاده نه ده کړی. رپورټ دا هم بیانوی چی د جدی جرایمو په شمول د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی ډیری قضیی بیرته اخیستل شوی او یا هم په کی منځګړیتوب شوی او ډیر کم شمیر قضیی تر عدلی تعقیب لاندی نیول شوی.

۱۵ کلنی نجلۍ چی سادات نومیږی هغه مهال چی د هرات په روغتون کی تر درملنی لاندی و وویل: "ما د دی لپاره چی له تاوتریخوالی خلاصه شم ټولی دروازی وروټکولی خو زما شکایت وانه وریدل شو. برعکس، څارنوالانو زه په درواغو ویلو تورنه کړم او د تهدید یی کړم چی ناوړه پایلو سره به مخ شم." هغی د تاوتریخوالی د بیا بیا تکراریدو او لاعلاجۍ له کبله ځان ته اور اچولی. سعادت بیا وروسته د ترکیی هیواد په یوه روغتون کی مړه شوه چی د علاج لپاره بیول شوی وه.

د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداری رئیسه انګیبیورګ سولرن ګیسلدوتر وویل: "په تیره لسیزه کی د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداری د افغانستان د ښځو سره یو ځای پر قانونی او ټولنیزو چارو کی ښه والی لپاره کار کړی چی موخه یی د ښځو

پر وړاندی د تاو تریخوالی له منځه وړل وو. مونږ د افغان حکومت او مدنی ټولنی څخه د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د ټولنیز ناورین، چی په هیواد کی قانون او عدالت کمزوری کوی، پر وړاندی هڅو څخه خپل ملاتړ بیا تکراروو." هغه زیاتوی: "د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره باور لری چی باید دواړو افغانو ښځو او نارینه سره مرسته وشی تر څو د خپلی راتلونکی پر وړاندی خپل مسؤولیت پر غاړه واخلی او وایی چی د سولی او تل پاتی ثبات راوستلو لپاره باید ښځو ته وړتیا وروبخښل شی چی په ټولنیز ژوند کی برخه واخلی."

د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د منع د قانون د تطبیق د ښه کولو لپاره یوناما افغان حکومت او د دهغوی نړیوالو شریکبانو ته خپلی ۳۲ سپارښتنی بیا تکراروی چی په کی د قانون په هکله د حکومت په لوړه او ټیټه کچه وګړو او د افغانانو ښځو او نارینه و تر منځ د پوهاوی د کچی لوړولو په موخه لا زیاتی هڅی؛ ستره محکمه او لویه څارنوالی او کورنیو چارو وزارت دی په ثابته توګه دا قانون په بیړنی او بشپړه توګه پلی کړی؛ او پولیس، څارنوالانو او قاضیانو ته دی د دی قانون د پلی کولو په برخه کی نور ټریننګ ورکړی.

یوناما او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره پر نړیوالو مرستندویو غږ کوی چی د افغانستان د ښځو لپاره د ملی کاری پلان (NAPWAR) او د "قانون او عدالت د ټولو لپاره" ملی لومړیتوبونو پروګرام او د NAPWA د تطبیق د چټکولو په موخه د ظرفیتونو لوړولو پروګرام، او د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د له منځه وړلو په موخه نورو هڅو بشپړ ملاتړ وکړی او د تطبیق لپاره یی مالی مرستی وکړی.

د یوناما خپور شوی رپورټ "په مخکی اوږده پرته لار: په افغانستان کی د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د منع د قانون تطبیق" لپاره انټرنټی لینک:
http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=4654

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**